

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ دې وي!

## زما ګرانی مينی ته R❤S

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کتاب نوم: لس لنډۍ کيسې

## ليکوال: رفيع الله علي حيدر (وردک)

د ليکوال نمبرونه:
۰۷۹۷۳۳۵۸۳۰
۰۷۳۰۴۳۲۷۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

هر وخت به جوړه مکتب ته تللو.

خو زما ملګری به هر وخت خفه وو.

ما به تري د خفه کيدو لامل پوښتنه وکړه خو جواب يې نه راکولو.

زما وربانډی زيات فکر خراب وو.

ډير لايق وو خو اوس نه پوهيګم چې څه وربانډی وشول.

دمکتب څخه دکور په طرف روان شوو په لاره کې کيناست.

ماويل ولې کيناستی.

ويل زړه مې خوګيګی څه وکړم.

ماويل څه لاس راکړه چې داکتر ته دې بوځم.

هغه ويل زما دزړه د درد داکتر ماته معلوم دی بل چاته نه.

ماويل خو راوښايه چې زه دې وروړلم.

ويل دا ناممکن دی.

لاس مې ورکړو دکور په طرف روان شوو.

ماورته ويل چې ته په ما باور نلری کنه.

هغه ويل لرم يې ته زما ملګری يې.

ما ويل ښه نو ولی راته نه وايې چې ته ولی هر وخت خفه وی.

ويل يې زه خو يم خفه خو په څهره ستا لپاره لږ خندا او خوشالی کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه که تاته زه خپله کيسه وکړم نو ته به هم خفه شی ته زما ګران ملګری يې تا په غم کې نشم زغملای.

ماورته هيڅ ونه ويل خو په زړه کې ترې زيات خوشاله شوم ځکه چې زما دخوشالی لپاره هرڅه په ځان زغمی.

بله ورځ بيا روان شوو مکتب ته.

مکتب ته ورسيدو.

درس مو وويلا هغه په لسم او زه په نهم صنف کې وم.

مکتب رخصت شوو.

هغه بيخی زيات خوشاله وو.

ماترې پوښتنه وکړه ولی داسی خوشاله يې الله پاک تل دا خوشالی په نصيب کړه.

هغه ماته ويل مننه راځه تيز راځه.

ما ويل څه کيسه ده .

هغه هغه طبيب چې زما زړه جوړولای شی هغه راته زنګ کړی وو چې راشه زموږ کورته.

ماويل ښه نو ځه چې ځانونه ورسوو.

ډير تيز مزل مو وکړو را ورسيدو.

زه کيناستم زما ملګری ورغللو .

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګورم چې يوه جنۍ ورته راووتله.

ماويل ښنا دا کيسه ده.

دجنۍ سره يې خبری کولی چې زما ملګری ولويدا.

ماورمنډه کړه چې بی هوشه دی.

ژر ژر مې را سم کړو.

لاس می ورکړو روان شوو کورته .

خو دهغه کورکی مور هم نه وه هغه وفات شوی وه.
نور نه ما بيا وليدو او نه بيا مکتب ته راغللو.

# لنډه کيسه.

تنها له مکتب را روان وم.

له سره مې څادر تاو کړی وو.

چې یوې جنۍ راسره سترې مشی وکړی.

زه پوه شوم چې غلته شوه.

نو یې چی ماته وکتل.

ویل یې وب وبخ وبخشه زه غلته شوم.

هیله کوم وروره چې پرما بدګومانه نشی.

ما ویل پوهیګم هیله کوم.

زه راغلم کور ته روان وم.

ما د یوې کلیوالی سره مینه کوله او پر ما زیاته ګرانه وه.

هغه مې ولیده سلام مې ورته واچولو.

هغی هم دلاس په اشاره جواب راکړو.

زه راغلم کور ته ډوډی مې وخوړه.

سبا بیا لاړم مکتب ته هغې جنۍ د دروازی مخه جارو کوله.

زه چې تری لیری تیر شوم لیک یې را وار کړو.

ما هم لیک را واخیستلو.

لیک مې وکتلو لیکلی مې وو.

ای دګل په شان نه پوهیګم چې ستا په لاس کې کوم جادو وو که
خنګه چل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دهغې راهيسى مې زړه تا غواړى ګرانه.

او دليک جواب زموږ د  دروازى په اشغال دانې کې واچوه.

ما ورته وليکل بخشه کوه زما مينه شته زه دبل چاسره مينه کوم.

سبا يې بيا ليک ايښى وو.

ليکلى وو.

ګرانه زه پر تا مېئنه يم څه وکړم هيله کوم ما يوازى مه پرېږده.

ما دليک جواب ورکړو هيله کوم ماته مزاحمت مکوى.

نو بيا يې ليکلى وو سمه ده ګرانه.

خو ته زما دزړه سر يې او تا نشم هيرولى او زه ستا په نوم ژوند کوم.

نور ما لاره بدله کړه نور په هغه لار نه تللم.

بله ورځ مې هغې کليوالى ته مسيج وکړو .

سلام سنګه يى

نو هغې جواب راکړو تاسو ځوک ياست.

ماويل ولى دى هير شوى يم .

هغې ويل مزاحمت مکوى ځوک ياست.

ما خپل عکس ورته وليګلو.

نو يې جواب راکړو ښه تاسو ياست .

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماويل هوو..

ويل نور ماته مسيج مکوه او نه زه درسره مينه لرم او نه تا پيژنم.

ماته زيات غوصه راغله چې څه مې په خوله راتلل ورته ومې ويل.

نو سمدلاسه لاړم هغې بلی انجلۍ ته مې ليک وليکلو .

ليک کې مې ورته وليکل:

سلام ګرانی ستا مغرور يار اوس سم شوی او ستا غلام شوی.

مينه درسره لرم .

دا ليک مې ورته کيښودا.

خو هغې ډير ليکونه ايښی وو هغه مې ټول راواخيستل.

اول ليک ليکلی وو

زه مينه درسره تا له خدايه غواړم

دوهم ليک

نن مې درپسی ډير زړلی دی هسی نه چی مړه شم.

دريم ليک

که ته ماته جواب رانکړی زه ځان وژنه کړم .

څلورم ليک

نن مې اخيری ورځ ده کنه نور ځم له دنيا.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما دا ليکونه په جيب کې واچول .

لاړم له کور څخه يې لږ ليری دوکان وو.

هلته کيناستم ماويل چې زما ليک وګوری لږ به ورته انتظار شم.

دوکان کې مې لږ شی واخيستل .

چې دوکاندار ته زنګ راغی ورسرت وغږيدو.

نو يې ويل سخت زړه مې بد شوو.

نورو خلکو ورته ويل ولی ولی څه کيسه ده.

ويل هغه دفلانکی لور ځان مړ کړی.

زه بې هوشه شوم .

چې په هوش کې راغلم نو عصابو مې کار نکولو.

راغلم کورته .

لېونی شوم نور هر څه رانه هير شول صرف يوه کلمه مې هر ځای ليکله .

ما وبخشه ګرانی ما وبخشه ګرانی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

زما مې دمور سره هر وخت لانجې او جنګ وو.

يوه ورځ يې له کوره پسی واخيستم.

راته يې ويل نن رانه ډوډی نشی خوړلی.

زه بهر بيرون تر غرمی پوری دنور هلکانو سره په ساعتری اخته وم.

هغوي ټول لاړل دغرمې ډوډی ته زه تنها پاتی شوم.

مور مې راباندی غږ وکړو راځه ډوډی ته خو زه نه ورتلم ځکه هغه ډيره غوصه وه.

ډير يې راته وويل راشه توبه وباسه ډوډی وخوره نور هيڅ هم نه درته وايم.

خو زه ورنه غلم .

اخير يی زما وړی خور ته ورکړه .

هغې راوړه بيرون ته.

هر چا به راته ويل چې داسی مکوه دا ستا مور ده پر تا ډير حق لری.

خو ما د هيچا خبر نه منله.

وخت تيريده.

پلار مې د مشر ورور سره ايران ته وليګم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ايران ته ورسيدم خو اوس پوه شوم
چې دمور مينه څومره محترمه ده.

نور مې مور زياته ياديده.

هر وخت به چې بازار ته لاړم يو شی به مې ورته اخيستل بيا به مې عکس ورته ليګلو هغې به راته دعاوی کړی.

تر ما کشر ورور وو هغې ته مې پکت دا يوو نصيحت کولو چې دمور سره فام کوه خفه يې نکړی.

بيا زموږ مور مريضه شوه .

ډيری روپۍ مو ورته راوليګی.

خو اخير زه راغلم له ايران او مشر ورور مې پاتی شوو.

مامې دمور لپاره ډيری تحفی اخيستی وی .

خو چې افغانستان ته داخل شوم .

خبر شوم چې مور له دنيا تللی.

نو زه په موټر کې بی هوشه شوم .

بيا چې په هوش کې راغلم ټولو خلکو ماته کتل.

څادر مې په سر واچولو او مخ مې پټ کړو پټه ژړا پټ غم زغمل

چې ژوندی وه نو يې په قدر نه پوهيدم

چې رانه لاړه نو په قدر يې زه پوه شوم خدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لنډه کيسه

بې ميني انجلۍ اخير د ميني دلاسه مړه شوه.

يوه ډيره هوښياره او حيا ناکه انجلۍ وه .

هغه 13 کلنه وه چې دا خبر به يې هر وخت کوله .

اې لويه خدايه مه مې په چا مينئه وه او مه رابانډې څوک مينئه وه.

ما ترې پوښتنه وکړه ولې داسې وايې .

جواب يې راکړو.

ويل يې داسې چې زموږ په پښتنو کې ډير کم خلک خپله مينه ترلاسه کوی .

خو که ترلاسه يې کړه خو ښه .

او که دلاسه يې ورکړه .

نو هم دهلک ژوند تبا شی او هم دجنۍ اکثره وخت د ډښمنۍ او ځان وژنې سبب شی .

نو اوس ته راته ووايه چې مينه ښخه ځان ساتل ښه کار دی که بد.

ما هيڅ جواب ورنکړو.

وخت تيريده هغه پيغله شوه .

خو ځان يې له مينې او وساتو .

او نه هم بل څوک وربانډې مين شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله ورځ دې جنۍ ته رشته راغله بس نصيب دی...
دا جنۍ يې واده کړه.

نو ما ورته ويل چې اوس دی دخاوند سره مينه کوی .

ويل هوو ماورته مبايل ورکړو ماويل زنګ ورته کوه .

هغی ويل مننه وروره.

ماورته ويل چې پلار دی څه درته ونه وايې .

هغې ويل ولی په کومه خبره به ماته څه واېي.

ما ويل مخکی له واده کولو د خاوند سره خبری کول دا په پښتو کی نه منی تا خو صرف کوژده کړی .

هغې ويل د پښتو دلاسه مې مينه نه ده کړی.

خو اوس دپښتو په کيسه کې نه يم .

ماويل سمه ده .

بله ورځ يې خاوند ورته زنګ کړی.

ښه په مينه ورسره غږيدلی .

خاوند يې ورته ويلی چې زه ستا ديدن ته درځم .

هغې هم ورته ويلی چې سمه ده .

خاوند يې راغلی نور څوک نه دی وربراندی خبر پکت يوه ويندیار يې وربراندی خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویندیار یې وایې چې هغه سړی لاړو له کوټې ووتلو خو جنۍ راونه وتله .

زه ورغللم ګورم چې جنۍ یې په چاقو وهلی او وفات ده.

ما ژر خلک خبر کړل .

هغه سړی یې ونیولو ډیر یې ووهلو چې ولی تا داسی وکړل هغه ویل چې زه په بله انجلی مین وم زما کورنۍ هغه راته نه کړله .

نو دا سړی حکومت بوتلا

پای

مینه مې نه کړه په دې  خاطر ای پاکه خدایه

چــې یا به مړه شم یا به مــړه  شـــی خلــک

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

دا ختر په بيګا دخپلو ملګرو سره ناست وم.

دي ته انتظار وو چې څه وخت خبر ورکوی چې سبا اختر دی او کنه.

زما په زړه کې هيڅ خوشالی نه وه .

ډير کوښښ مې وکړو چې خوشاله شم خو نه کيده.

ملګرو خندل او ټوکی کولی زه غلی په همدی سوچ کې ناست وم چې زه ولی داسی شوی يم آيا ګناهګار يم که سنګه.

ملګرو راته ويل ولی داسی غلی يې مفتونه .

ماويل هسی فکر مې خراب دی.

هغوی ويل مفتونه اصلی خبر وکړه .

ما ورته ويل چې مينه مې کړی اوس نو داسی شوی يم هيڅ شی مزه نه راکوی.

او ليدل يې هم ناممکن دی ما خو ويل چې اختر کې به مې ساعت تير شی خو هغه تر مخکی زيات خراب شوم .

هغوی ويل مفتونه په کيسه کی مکيږه ولی ځان سره ظلم کوی.

ما ورته ويل سمه ده .

خو زما يوه هيله او ارمان دا دی چې هغه وخت خو هغی زماسره مينه کوله چې اوس به زه ورته ياد وم او کنه.

هغوی ويل نه پوهيګو .

خو خير زړه مې ډير ډک کيدو خو ځان مې ټينګ کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو خير راډيو اعلان وکړو چې سهار اختر دی.

نو د ملګرو بنډار لړنګ شوو.

زه هم راغلم کورته ټول ويده وو .

لمونځ مې وکړو ډيری دعاوی می وکړی.

ويده شوم سهار چې پاڅيدم ټول خلک خوشاله وو.

ما هم نوی داختر کالی واغوستل.

لاړم جومات ته چای مو وڅښلو راغلم کورته.

کور کې مور هم نه وه هغه وفات وه مخکی.

نور هم تنګ شوم لاړم بيرون ته ټول خلک جوړه لاس تر غاړی تاويدل عکسونه يې اخيستل .

خو زما هغه دښی ورځی ياران هيڅ معلوميدل هم نه.

د سړک دغاړی سره ناست وم .

چې هغه جنۍ دبل هلک سره موټر کې وه .

ما خو ويل چې هسی خپل به يې وی خو چې له ما يې مخ پټ کړو .

نو زما صبر خلاص شوو چيغه مې وکړه .

دځان سره مې تړون وکړو چې نور دې کلی کې ژوند نه کوم.

نو په همدی اختر کې لاړم کلی مې پريښوو .

وروسته داختره لاړم ايران ته

خو زړه ظالم هيڅ صبر نکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پای

زه مين وربانډی ډير وم او هغه هم پر ما مينه

مشکيل داوو چې زه يې هير کړم خو زما نشوه هيره

يوه انجلۍ چې مينئه شوه غمجنه شوه

## لنډه کيسه

يوه انجلۍ چې ډيره خوشاله انجلۍ وه.
دا به ما هر وخت ليده .
خو دايمن به خوشاله وه هر وخت يې خندل .
هغه وخت ماواده کړی وو.
دې جنۍ بابا مړ شوو په هغه ورځ يې هم داسی خندل لکه په خوا يې چې خندل زه ډير حيران هم شوم او غوصه هم راغله.
نو زه ورغللم ورته ومې ويل اې تاته وايم .
هغې ويل څه وايې وروره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماویل دا مړی نه وینی چې ته داسی خاندی او خوشاله یې.

جواب یې راکړو.

ګوره وروره ژوند باید په خوشالی تیر شی نه په غم زما بابا مړ دی زه پوهیګم چې زما سره اوس خندا ښه نښکاری.

خو ما دځان سره وعده کړی چې هیڅکله به دنیا غم ته ونه ژاړم هغه که زما مور هم مړه وی.

صرف یوو غم مې ژړوی.

ماویل کوم غم.

جواب یې راکړو.

دهغې بلی دنیا دقبر تیاره او دمحشر ورځ او د دوزخ عذاب دا مې ژړوی.

زه ترې روان شوم څه مې ونه ویل.

بیا مې ډیر وخت وروسته ولیده چې بیخی زیاته غمجنه وه.

ما ترې پوښتنه وکړه .

ماویل څنګه یې مستی انجلۍ اوس ولی داسی خفه یې.

راته یې ویل زه ورور نلرم نو ته مې ورور یې ګرانه.

ما داسی کیسه کړی چې له فکر او معلوماتو مخکی مې مینه کړی.

ماویل ښه نو داخو دومره لویه خبره نه ده .

هغې ویل وروره ډیره لویه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځکه ماچې له کوم هلک سره مينه کړی او خپل عکس مې هم ورکړی هغه زما دورور قاتل فلانکی دی.

ما خير سوچ مه وهه خدای پاک لوی دی.

خودا جنۍ به هر وخت فکرو او سوچو کې ډوبه وه .

اخير يې عصاب دلاسه ورکړل او لېونۍ شوه

پای

ښـه ومـه خـوشالـه هيڅ يـو غـم مې پيژندلو نه

شومـه لېونۍ چې په غلته کې په خپل دښمن ميئنه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

بې پلاره زوی

د یوه هلک پلار په ماشومتوب کې وفات شوی وو.

کورکې یوه مور او دوی خورانی او یو زوی وو.

خوراني تر هلک مشری او هلک کشر وو.

دهلک پلار ډیر سرمایه دار وو.

ډير موټر هر څه يې لرل.

هلک ماشوم وو او خورانو يې دخپل حق پوښتنه نشوو کړای.

او مور يې تر لورانو بتره وه.

دې هلک د پلار سرمایه دهغی خپلوانو سره تقسیم کړه .

وخت تیریده.

هلک ځوان شوو.

ډیر تکړه او ښکلی ځوان ترې جوړ شوو.

دې هلک دخپل حق غوښتنه وکړه.

دکلی یو څو سپین ږیری يې راټول کړل.

خو هغو خلکو چې د هلک حق يې خوړلی وو.

هغو نه منله.

هلک ډیر غوصه شوو یو کس يې په تفانچه وویشت په ښنه باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خورانو او مور يې ورته ويل چې پريږده يې زويه هسى نه چې ته رانه لاړ شى بيا به زموږ ژوند تبا شى .

خو هلک نه منله اخير يې دوه کسان مړه کړل.

خو اخير هغه هلک هم له دنيا لاړو.

مور او خور يې پسى لېونى شول.

او دسخت ظلم سره مخ شول هغو خلکو وربادى کولو چې دهغو ښخه هغه هلک مړى کړى وو.

پاى

عبرت

هيڅکله د چا ميراث او حق مه خورى يو وخت ضرور د دښمنى سبب کيږى

زما حــق خــوره تــه زما حق ولى نــه راکوى

خداى خبر هسى نه چې بيا دې له دې کلى ورک کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

يو انجينر د يوو چا ميني چرسی کړو.

د داخلي وزارت اعلان کړی وو چې چرسيان او نشه يان راټول کړی.

نو زه هلته بازار ته په سودا پسی تللی وم کابل ته .

نو طالبانو چرسيان راټولول .

نو يوو چرسی چې ډير ښکلی ځوانی او ښه بدن يې وو.

طالبانو تر لاس نيولی وو زور يې ورسره کولو .

چرسی چې زور وکړو نو دوه تنه طالبان يې له ځان څخه ليری کړل.

او ويل يې ليری شی بی عقلانو زه خپله ځم.

نو يوه طالب تري پوښتنه وکړه چې ته ولی دا نشی کوی ځومره ښه بدن او ښه ځوانی خدای درکړی.

نو چرسی جواب ورکړو چې تا مينه کړی.

طالب ويل نه مينه مي نه ده کړی.

چرسی ويل آفرين مينه مکوه

زه ميني داسی کړی يم

طالب ويل ولی مينه سړی داسی کوی.

چرسی په ژړا شوو او وويل .

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما هغه بيوفا زياته ياديګی

نور به يی چی څه ويل زه ترې راغلم

پای

چې په مينه کې دې زه ګرانې چرسی شوم.

نو دا هم ستا دغمونه  او جفا له لوی عذابه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لنډه کيسه

د لور سره ظلم

په يوو کلی کې دوه وروران وو چې خورا غريبان وو.

يوه ته يې واده کړی وو او راوړی يې هم وو.

او  هغه بل ته يې کوژده کړی وه.

مشر ورور يې موټر چلولو په موټروانۍ يې نيولی وو.

او  هغه بل په ايران کې وو.

پلار يې وفات شوو د ايران څخه يې هم زوی راغلو.

ډير قرضداره وو.

پر دوی يې خپل پلار زيات ګران وو.

ډير پسی خفه وو.

وخت تيريده .

هغه کوژده يې چې ورته کړی دهغی ولور يې نه وو ورکړی.

وخت تيريده بله ورځ يې

مشر ورور يې موټر ټکر کړی وو ورور يې هم وفات شوو او ملامت هم مشر ورور وو .

قاضيانو فيصله وکړه چې دې دوه وروران چی احمد او سورګل چې سورګل ملامت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سورګل ورور به دې خلکو ته 9لکه افغانۍ ورکوی.

احمد سم لېونۍ شوو ځکه د خپل کوژدنی ولور د کور مصارف او دا د خلکو ديت او دورور غم او کور يی ورته پاتی وو.

خو لنډه دا چې احمد په لسو کالو کې 9لکه ديت ورکړو او ولور يې پاتی وو.

احمد خپل خسر ته ويلی وو چې زه به  خپله کوژدنه ناوی کړم .

خو داحمد خسر ويل چې تر څو مې دلور ولور رانکړی ناممکن دی.

احمد ډيری  زاری ورته وکړی چې زموږ ځوانی هسی تيره شوه په ولور خو دې منکر نه يم .

خو هغه نه منله احمد لاړو ايران ته دری څلور کاله نور تير شول .

خو اخيريې د خپل خسر ولور   ور ادا کړو.

خپله کوژدنه يې را ناوی کړه .

يوه مياشت کم او زيات وخت تير شوو.

داحمد ښځه سخته ناروغه شوه.

ډيرو داکترانو ته يې بوتله .

خو اخير چې يوه داکتر يې بوتله .

هغه ورته ويلی وو چې .

دې جنۍ دومره فکرونه او غمونه او ژړاکړی چې  داسی ناروغی ورته پيدا شوی چې دابه د يو څو شپو ميلمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


په روپيو دې دخپلی لور ژوند ور خراب کړو
اې ظالمه پلاره ولی دې خدای ځان ته په قهر کړو

لنډه کيسه

د خان په لور مين متعلم
يوو هلک د خپلی معشوقی دلاسه هر څه دلاسه ورکړل.
دا هلک ډير لايق متعلم وو.
دا چې اتم صنف ته ورسيدو نـو ما په مکتب ډيـر کم ليدلو.
يـوه استـاذ مـاته ويل چـې ورته ووايه چې مکتب ته راځه نور محروم کيږی.
زه راغلم کورته.
هغه هلک مې پيدا نکړو.
ډير پسی وګرځيدم خـو پيدا مې نکړو.
اخير يې ولاړم کور ته يې ورغللم خو په کور کې يې ويل چې هغه مکتب ته تللې.
نـو ما ورته ونه وويل چې هغه په مکتب کې نه وو.
ډير فکر مې خراب شوو چې دا چيرته ځی.
بل سهار مې د هلک څارنه شروع کړه.
ګورم چې هلک يوو کور ته دننه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما هم دکور دروازه ورټک کړه هغه خپله هغه هلک دروازه راخلاصه کړه.

ما ورته سلام وکړو.

ما يل ګرانه استاذ زه په تا پسی راليګلی يم.

ته ولی مکتب ته نه راځی.

هغه ويل ته خو زما ملګری يې راځه دننه.

نو يې کيسه شروع کړه ويل يو کال کيږی چې زه په يوه جنۍ مين شوم

دې جنۍ به زه ډير خوشاله ساتم

ماته يې کالی بوټ او داسی نور شيان راکول.

زه وربانډی دومره مين شوم که هغه راته مرګ شی هم قبوله مې ده.

ماويل ښه نو مکتب دې ولی پريښوو

ويل دا د خان لور ده ماته فرمايشات راکوی هره ورځ شی غواړی.

او زه دکور ښځه روپی نشم اخيستلای.

نو اوس مې دلته کار شروع کړی .

په ژړا او په غمو روپی ګټم چې اول وربانډی مين شوم خوشاله يې وساتم او چې په مينه کې لېوني شوم اوس مې داسی کوی.

زما وربانډی زيات زړه بد شوو.

وخت تيريده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې هلک د جنۍ غوښتنه وکړه د رشتې.

خو دهغې پلار ويل چې زه مې لور داسې غريبو خلکو ته نه ورکوم.

خو ډيرې رشتې يې ور وليګې

خو خان نه منله.

هلک هر څه دلاسه ورکړل

پای

چې در ميئنې دم نو ښه خوشاله دې کړم

چې در مين شوم بيا دې ولې پريښوم

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**